# د وجودي او شهودي فلسفو تر منځ د اختلاف لاملونه

ليکوال: پوهيالی سراج احمد «ژواک»

**لنډيز**

مسلمان صوفيان د اشياوو په وجود کې د حق سبحانه و تعالی د انوارو د ليدلو او ظهور له کبله په دوو ګروهو وېشل شوي دي. د يوې ګروهې ګروهمنو ته وحدت الوجوديان او د بلې هغې ګروهمنو ته وحدت الشهوديان ويل کېږي. په «وحدت» کې يې دواړې ډلې په يوه خوله دي؛ خو په «وجود» او «شهود» کې يې تر منځ اختلاف ليدل کېږي. لومړۍ ډله د الله (ج) د ذات او صفاتو په انوارو کې دومره غرق شي، چې د اشياوو وجود هم ترې مختفي شي او له خولې يې بې له واره د «همه اوست» ناره راووځي. دويمه ډله بيا د اشياوو وجود هم ومني او د يوه خدای (ج) د ذات او صفاتو د انوارو مشاهده هم په کې وکړي. د ټولو اشياوو سرچينه همغه يو خدای (ج) وګڼي او د «همه از اوست» ګواهي ورکړي.

**کليدي ويونه: وحدت الوجود، وحدت الشهود، ممکن، جبر، اختيار، عينيت او**

غیریت.

**سریزه**

صوفیانه او فلسفیانه اندونه که څه هم ډېری داسې دي چې په الفاظو کی نه شي راتللی؛ خو بیا یې هم د ډېرو څېړونکو پام ځانته وراړولی دی او د ډېرو ترمنځ یې په هکله پوښتنې شاربل شوې دي. ددې ډول اندونو او تیوریو څخه یوه هم د اسلامي تصوف د «وحدت الوجود» او «وحدت الشهود» ربړه ده، چې کلونه کلونه یې د څېړونکو له خوا د حل کولو هڅه شوې، خو لا تر اوسه یې په بشپړه توګه د ابهام پرده له مخ څخه پورته شوې نه ده؛ اوس یې هم ډېری کسان وړاندې کوونکي شطح ویونکي ګڼي او په یوه او بل دلیل سره پرې د کفر او الحاد تورونه لګوي؛ هغه هم په داسې حال کې چې دواړې ډلې د خپلو ادعاوو د ثبوت لپاره پر قرآن او احادیثو تکیه کوي او خپلو ګروهو ته شرعي جنبه ورکوي. ښایي لامل یې هم دا وي چې تر ډېره حده ددغو فلسفو نظریات د وړاندې کوونکو شخصي تجربې دي او کشفي حالت لري. پرالفاظو کې د دا ډول شخصي تجربو انځورول نورو ته، خامخا دارنګه غبرګونونه د ځانونو پر وړاندې را پارولی شي.

**وحدت الوجود**

د وحدت الوجود معنا داده چې یوازې یو وجود چې هغه د یوه خدای (ج) وجود دی حق دی، دا نورې هستۍ چې موږ یې د وجود احساس کوو، په حقیقت کې هیڅ وجود نه لري. ځکه حق پر هر څه محیط دی، تر محیط د لاندې څیز مشاهده ناشونې ده، څه چې دي، د هغه علمي معلومات دي او د خارجي جهان تصور ځکه پیدا شو، چې د حق معلومات چې د حق په اسم «هو الباطن» کې وو، نو هیڅ تعین او امتیاز یې نه درلود، بلکې عین ذات ؤ، لکه څاڅکی په سیند کې، خو چې کوم وخت د حق اسم «هو الظاهر» ته راغلل، نو ټولو د یو او بل وجود محسوس او مشاهده او له همدې څخه د کایناتو تصور پیدا شو، خو په حقیقت کې هغه ذات «الان کما کان» دی ، نه ترې څه بېل شوي او نه ورسره یو ځای شوي دي. (۴۱/۷)دلته د سالک په مشاهده کې پر ته له یوه الله

سبحانه و تعالی څخه بل څه نه ښکاري، که چېرته ولیدل شي، نو سالک په بشپړه توګه موحد نه دی، بلکې مخفي مشرک ګڼل کېدای شي. په دې توګه ویلای شو، چې د وحدت الوجود تیوري یو وجود موجود ګڼل او د نورو اشیاوو له وجود او موجودیت څخه انکار کول دي او په مرتبه کې یې د سالک پر حق یقین علم الیقین ګڼلی شو. (۹/۶)

**وحدت الشهود**

د ټولو هستیو سر چینه چې هغه الله سبحان و تعالی دی یوه ده. د بېلا بېلو آثارو او صفاتو ظهور په حقیقت کې د همغه یوه خدای (ج) د ذات او صفاتو عکس العمل او ظل (سیوری) دی، چې پر عدم پرېوځي یا منعکس کېږي، خو دا سیوری په خپله د سیوري څښتن (صاحب ظل) نه دی، بلکې محض یو مثال دی. (۳۸/۷) حقیقت الحقایق د ذات له مخې واحد دی، هلته شمېر او عدد لار نه لري؛ مګر په تجلیاتو او شئوناتو کې کثیر او متعدد دی، د عین وحدت په لحاظ حق ورته ویل کېږي او د ظهور او تعین په لحاظ «خلق» نوظهور، بطون، ازلیت، آخریت ټول د هغه اعتبارات دي. (۷۳۳/۳) نو په دې سبب عالم (نړۍ) د خدای (ج) د هستۍ په وړاندې د حال خاوندانو ته نه ښکاري. انسان په طبیعت (نړۍ) کې یو کمزوری او خوار مخلوق دی، خو په تصوف کې هماغه ذره ده چې له لمره بېله او بیا به لمر شي. یو څاڅکی دی، چې سمندر یې په غېږ کې پټ کړی. ( ۳۵/۷ ) په دې توګه ویلای شو چې: وحدت الشهود په حقیقت کې د یوه ذات لیدل او د ټولو نورو اشیاوو، پرته له دې چې د وجود له حقیقت څخه یې انکار وشي، نه لیدل دي. ( ۹/۶)

**مادي نړۍ (عالم ممکن)**

د وجودي او شهودي فلسفو تر منځ د اختلاف یو لامل عالم ممکن (مادي نړۍ) ده .چې وحدت الشهودیان یې هستۍ ته، پر ظلي وجود قایل دي او وحدت الوجودیان یې بیا ظهور خارجي ګڼي، نه ظلي .خو د دې دواړو فلسفو برعکس د اهل سنتو جمهور عالمان بیا مادي نړۍ ته وجود خارجي ورکوي؛ نه ظلي او ظهوري. دوی استدلال کوي چې که چېرته وجود ورنه کړو نو بیا مدار د تکلیف نه په وجود ظلي راتلی شي او نه هم

پر ظهوري . په دې پار وحدت الشهوديان او په ځانګړې توګه د دوی سرلاری حضرت مجدد الف ثاني (رح) تر دې پوښتنې لاندې راتلی شي چې: کله عالم ممکن ظلي وجود ولري، نه خارجي او ظهوري؛ نو بيا خو پرې مدار د تکليف نه شي راتلی؟ چې نوموړی يې په خپله داسې ځوابوي: «ممکنات خو ظهور خارجي لري؛ لېکن دا صُنع او فعل د حق سبحانه و تعالی دی او د حق سبحانه و تعالی صُنع او فعل خو يو ډول اتقان لري او داسې فعل او صُنع نه ده؛ لکه د نورو مخلوقاتو. نو په اتقان باندې د تکليف دا ترتُب مرتب دی.» (۴ / ۷۹) چې په دې سره حضرت مجدد الف ثاني (رح) بين البين شو. نه داسې شو لکه د وجوديه وو او نه داسې شو لکه د ظواهرو عالمان؛ د ظواهرو عالمانو ته خو يې وجود ظلي د تکليف مدار ثابت کړ او له وجوديه څخه عذر کوي چې دوی د خدای (ج) سره د ډېرې مينې او محبت له مخې دا ډول خبرې کوي. کله چې دوی ته ظهور د تجلياتو وشي او د سکر حالت پرې راشي، نو ټول شيان ترې مختفي شي او حکم کوي چې بل شی وجود نلري، يوازې حق سبحانه و تعالی موجود دی. د وجودي فلسفې تيوري له يوه خدای (ج) پرته پرهيځ شي د وجود حکم نه کوي او ادعا کوي، چې د مخلوق وجود په خارج کې نشته، څه چې ښکاري په حقيقت کې د هماغه يوه خدای (ج) د تنزل د ډول ډول مرتبو څخه يوه مرتبه ده. همغه د کُن په چاره کې د اشياوو وجود ته پنځه تنزله کړي، چې لومړی دوه تنزله يې علمي او ورستني درې يې بهرني دي. «په لومړي تنزل کې يې د وحدت له مطلق شتون څخه خبرېږو او دا د اجمالي صفاتو اګاهي ده. په دويم تنزل کې وحدت له خپلو تفصيلي صفاتو څخه اګاه کېږي؛ دغه دوه پړاونه يې په حقيقت کې واقيعي نه؛ بلکې مفهومي دي. واقيعي تمايزات د تنزل په دريېم پړاو کې پيلېږي، ياني څه وخت چې وحدت پر ګڼو ارواحو لکه ملايکو وېشل کېږي. څلورم تنزل يې مثالي دی، چې د عالم د مثال له لارې منځته راځي. پنځم جسدي تعين دی، چې محسوس يا جسماني موجودات رامنځته کوي.» (۷ / ۷۱) په دې توګه الله سبحانه و تعالی د اشياوو سره اړيکې پيدا کوي او پر هر شي احاطه کوي. خو د دوی برعکس

شهودي صوفیان اشیا او کایینات د خدای (ج) د ذات او صفاتو سیوري ګڼي، نه په ډول ډول مرتبو کې د هغه یوه خدای (ج) د ذات ظهور.

**عینیت او غیریت**

د وجودي او شهودي فلسفو تر منځ د کشمکش یو لامل د الله سبحانه و تعالی له ذات سره د هغه د صفاتو د عینیت او غیریت موضوع ده؛ چې وجودیان د هغه تبارک و تعالی صفات له ذات سره عین ګڼي او شهودیان یې بیا غیر. د شهودي تیورۍ پلوي صوفیان په ځانګړي توګه حضرت مجدد الف ثاني (رح) استدلال کوي چې: د الله تبارک و تعالی صفات د هغه پر ذات زاید دي او وجودي صوفیان په تېره بیا ابن عربي (رح) یې عین ذات ګڼي، نه صفات او وایي چې: د «فعلیت مطلقیه» چینه بېخي یوه ده، صفات صرف اعتبارات دي چې په یوه ذات کې متصور دي که صفات پر ذات زاید وګڼل شي، نو په دې سره پر ذات د صفاتو معلول ګرځي او ذات به د صفاتو یوه مجموعه متصوره شي. (۴۰/۷) ابن عربي وجود دوه ډوله توپیروي، یوه د «احدیت» خوا، چې پټه، نا پېژندل شوې او وصف نه منونکې ده او بله د «ربوبیت» جنبه ده، چې خدای (ج) په دې ډول له جهان سره نسبت پیدا کوي او د رب (ج) او خالق (ج) په عنوان سره معبود ګرځي. په رومبۍ خوا کې هیڅ ډول تعارض یا تعدد او هیڅ رنګه تعین نه شته، له همدې ځایه ده چې کولی شو، خدای (ج) «مطلق نور» یا «مطلق خیر وبولو. خدای (ج) د صفاتو له لارې یا د بېلابېلو تعیناتو له مخې کثرت را منځته کوي؛ که چېرته په ذات کې وکتل شي «حق» دی او که د صفاتو له مخې (هغه صفت چې متجلي شوي) یې وګورو، «خلق» دی، یانې د مخلوق حقیقت دی. خو وجودي تیورۍ پلوي صوفیان په ځانګړي توګه شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني (رح) د ابن عربي پر دې نظریه سخته نیوکه کوي. دی مبارک وایي چې: «له وجود سره د صفاتو د یووالي ګروهه خطا ده، قرانکریم فرمایي: [ان الله لغنی عن العالمین] (العنکبوت/۶ایت) یعنې الله (ج) د خپل ظهور لپاره له عالم څخه بې نیازه او بې پروا دی. (۵/العنکبوت/۶ایت) د ده په نظر دغه آیت په ښکاره

دا حقيقت ښکاره کوي، چې خدای (ج) د خپل ظهور لپاره په عالم اتکاء نلري. هغه صفات چې پرې عالم ته پام اړوي او هغه رامنځته کوي، له ذاته غير دي. (۷/ ۷۴) په دې برخه کې د دې دواړو فلسفو دغه ډول نظريې د اهل سنتو جمهور علماء نه مني، هغوی يې نه عين ذات ګڼي او نه غير ذات. دلته په غالب ګمان سره چې سکوت اختيار وي. دا ښه خبره هم ده، ځکه وحدت الوجود کشفي او وجداني حالت دی او پر الفاظو يې انځور ستونزې زيږوي، ځکه الفاظ د بيان ناقصه او بې اعتباره لړۍ ده.

**جبر او اختيار**

د وجودي نظريې پلوو صوفيانو په اند په مادي نړۍ کې د مخلوق هره اراده او په وړاندې يې د هر ډول غبرګون بنسټ تقدير دی. د دوی په نزد انسان په ژوند کې په خپله خوښه او اختيار سره هيڅ څه نشي ترسره کولای. مخلوق د جبر د ګروهې تابع دی، څه چې ورته په تقدير کې ليکل شوي وي، همغه ور سره په ژوند کې کيږي؛ د هغه له خوا ورته تعين شوو حدودو څخه يو ګام هم بېرون نشي اخيستی. انسان يوازې د خالق او مخلوق داړيکو او قديم و حادث ترمنځ بند نه دی، بلکې د خير و شر، جزا و سزا او جبر و اختيار په باب يې هم ډول ډول مسايل زيږولي. خدای (ج) مطلقه هستي ده او مطلق خير هم. خو قران کريم وايي: «د خير و شر دواړو پيدا کوونکی خدای (ج) دی.» له بل اړخه که مشيت مطلق يو وي او چې خدای (ج) ونه غواړي، انسان څه کولی نه شي، نو انساني اختيار له منځه ځي، چې پرې د ټول شريعت، اخلاقو او امر و نهی مانۍ ودانه ده. (۸/ ۷۹) خو شهودي صوفيان بيا د مخلوق ژوند د اختيارتابع کړي. او وايي چې: «ژوند ارتقا منونکی دی او کائنات د خدای (ج) د پرلپسې تخليقي مشيت دويم نوم دی. نو څرنګه چې د ټاکلې نقشې بنسټ غلط دی، نو جبر په خپله غلط شو. دغه دليل چې د کايناتو خالق د هر شي تقدير ټاکلی او د تقدير اصول له قرآنکريمه ثابت دي.» (۸/ ۸۰) خدای (ج) انسان ته دا فرصت ورکړی، چې د خپل ژوند په چاپېريال کې له خپل انتخاب سره سم په شعوري ډول يوه لاره غوره او يا يې پرېږدي او که دی د ابن عربي (رح) د وحدت الوجود د

طبعي حکم سره تشه نانځکه وي، کولی نه شي، د خپلو ښو یا بدو اعمالو په وسیله تنبیه شي. (۷۶/۷)

**حلول او اتحاد**

د وحدت الوجود ستر بلندوی شیخ اکبر ابن عربي (رح) فرمايي «خدای (ج) د ظهور پر مقام له دې سره سره چې د ذات له پلوه جدا او ځانګړی دی، خو په اشیاوو کې حضور پیدا کوي او د شي د تجلا محل ګرځي، ځکه خو بهرني شیان چې د تجلا محل او د حضور ظهور دی، وکتل شي، کثرت دی، خو که له هاغه بل پلوه یې وګورې، وحدت دی او د وحدت پر مقام بې له حضرت (ص) څخه بل هیڅ نه شته او که د شي تصور وکړو، دا شی هیڅکله حق نه دی او حق هم هیڅکله شی نه دی» (۷۲/۷) یعنې دا په دې معنا نه ده، چې (العیاذ بالله) خدای (ج) د اشیاوو سره اتحاد او یا یې په وجود کې حلول کړی دی؛ د بنده او الله تعالی ترمنځ اړیکې داسې مرحلې ته نه شي رسېدی چې بنده خدای (ج) شي او یا خدای (ج) بنده. (۴۹۳/۲)

خو شهودي صوفیان، په ځانګړي توګه حضرت مجدد الف ثاني (رح) د نوموړي دا ډول خبرې د اشیاوو په وجود کې د خدای (ج) حلول او اتحاد ګڼي او ورسره یې نه مني. حضرت مجدد الف ثاني (رح) په دې اړه وايي: که چېرې جهان فقط د صفاتو تجلا وي، په کار ده، چې له هغه سره یو وي خو د خدای (ج) صفات کامل دي او جهان د نواقصو ډک دی. لکه چې د انسان سیوري ته وجود ویلی نه شو، چې پر همدې وجود متکي هم دی. نو دغسې دغه استنتاج هم ښه دی، چې خدای (ج) د خپل ظهور لپاره په عالم متکي دی. بشري پوهه د خدای (ج) له علم سره هیڅ ورته والی نه لري؛ نو ځکه بشري پوهه د خدای (ج) د علم تجلا ګڼلی نه شو. (۷۵/۷) «عالم که صغیر وي او که کبیر هغه، مظاهر د خدای (ج) د ذات او صفاتو دی او د هغه سره یې هیڅ ډول مناسبت نه شته، که څه هم مخلوقات یې دي او پر اسماوو او شؤوناتو یې دلالت کوي. او وحدت الوجودیان چې حکم د عینیت، اتحاد او احاطې کوي، د دوی د سُکر د حالت زېږنده

وي.» (۴ / ۱۰) خو د هېواد نوميالي عارف جامي (رح) د وحدت الشهوديانو پر خلاف د وحدت الوجود څخه بل ډول برداشت کوي، د ده په وينا: «دا په ياد ساتل په کار دي، چې وحدت الوجود حلول ځکه نه دی، چې د حلول مطلب دا وي چې يو شی په بل کې ورک او يا ګډ شي. دا مانا چې په حلول کې په هر صورت د دوو شيانو اړتيا وي وی، خو په وحدت الوجود کې د يوه واحد ذات احساس وي، د ده د غير يا ماسېوا الله (ج) تصور هيڅکله نه وي. حلول دويي ثرګندوي، خو وحدت الوجود له داسې خرافاتو څخه پاک او سپېڅلی دی.» (۸/ ۶۹)

**حال او مقام**

د وحدت الوجوديانو په اند وحدت الوجود د اسلامي تصوف ورستۍ مقام دی او هر صوفي بايد هغه ته په رسېدلو کې هڅې وکړي. ددوی په نزد د تصوف ورستي موړونه فنا في الله او بقا في الله دي، چې د هغه تعبير په وحدت الوجود سره کېږي. تر څو چې انسان د خدای (ج) د هستۍ په وړاندې د خپلې او د جهان د هستۍ منښته هم کوي، تصوفي تعليمات يې بشپړ کړي نه دی. بايد لا دوام ورکړي او د وحدت الوجود وروستي مقام ته ځان ورسوي. خو د شهودي ګروهې منونکي صوفيان وحدت الشهود د اسلامي تصوف ورستۍ منزل ګڼي او وحدت الوجود ته حتا له سره پر مقام هم قايل نه دي او حال يې ګڼي. دوی وايي چې: وحدت الوجود د طريقت له شرائطو څخه نه دی، بلکې ځينو اشخاصو ته پيدا کېږي؛ ليکن بايد کوښښ وکړي چې ژر تر ژره له دې حالت څخه ووځي او د وحدت الشهود مقام ته ورسېږي. ځکه وحدت الشهود د طريقت له شرايطو څخه دی او هر صوفي بايد دغې مقام ته ورسېږي. د وحدت الشهود اهل د وحدت الوجود د اهل په اقوالو اعتبار هم نه کوي او ردوي يې هم نه. ځکه هغوی هم د حق سبحانه و تعالی دوستان ګڼي او وايي چې: له دوی څخه د غه ډول خبرې د سُکر په حالت کې صادرېږي. چې زموږ د دې خبرې ښکاره ثبوت د وحدت الشهود د نظريې د باني حضرت مجدد الف ثاني (رح) دا وينا کېدای شي چې: «نه اين کار ميکنيم و نه انکار ميکنيم.»،

یعنې نه دا کار کوو چې دوی یې کوي او نه ورڅخه انکار کوو. (۸۴/۴)

**احاطه او محیط**

د وحدت الوجودیانو په اند خدای (ج) د قرآن عظیم الشان د دې آیت او دې ته ورته ډېرو شرعي نصوصو پر بنسټ چې (...وکان الله بکل شی محیطا) (دالنساء سورت/ ۱۲۶ایت) پر اشیاوو ذاتي احاطه کړې ده. طبعي خبره ده کله چې یو شی پر بل شي احاطه وکړي، نو ترې لاندې شی چاته نه ښکاري او د وجود احساس یې ناشونی وي. نو ځکه وحدت الوجودیان وایي: چې (همه اوست)، یعنې بغیر له الله (ج) څخه چې پر مخلوق یې احاطه کړې د بل هیڅ شي وجود نشته. خو د دوی د دې ګروهې برعکس وحدت الشهودیان وایي: چې د قرآن عظیم الشان د همدغه آیت او دې ته ورته سلګونو نورو شرعي دلیلونو پر بنسټ الله سبحانه و تعالی ذاتاً نه، بلکې علماً پر اشیاوو احاطه کړې او همدغه ګروهه یې د اهل سنتو جمهورعالمان هم ورسره تاییدوي.

**پایله**

د دې مقالې په لوستلو سره ښایي تاسو هم دې پایلې ته ورسېږئ چې د دې دواړو ګروهو د ګروهمنو تر منځ د ځینو مسایلو په هکله جګړې او یو پر بل نیوکې یوازې لفظي جګړې دي. د دې دواړو ګروهو موخه یوه ده، چې هغه د الله سبحانه و تعالی د دیدار هیله ده. د هغه تبارک و تعالی پر «وحدت» د دواړو ګروهو ګروهمن یوه خوله دي. خو د اشیاوو په وجود کې یې د ذات او صفاتو د انوارو په تجلی کې سره اختلاف لري. د وجودي ګروهې ګروهمن یې په انوارو کې داسې غرق شي، چې د اشیاوو وجود هم ترې مختفي شي او له اختیاره پرته یې له خولې د «همه اوست» ناره ووځي.د شهودي تیورۍ پلوي صوفیان یې بیا په اشیاوو کې د هغوی د هستۍ د منبنتې ترڅنګ د یوه وجود د ذات او صفاتو د انوارو ننداره کوي او د اشیاوو د یوې سرچینې په توګه یې د «همه از اوست» ګواهي ورکوي.

**سرچینې**

۱ : قرانکریم
۲ : ایوبي، نادر. (۱۴۳۴). **عرفان**. لاهور: دریم چاپ، صحاف نشراتي مؤسیسه.
۳ : حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴). **د پښتو ادبیاتو تاریخ**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۴ : داد محمد. (۲۰۱۱). **مقدمه التصوف**. کابل: جامعۀ ضیاء المدارس، د علم او عرفان خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه.
۵ : دیوبندي، محمد حسن او عثماني، شبیر احمد. (۱۴۱۴) **کابلی تفسیر**. د افغانستان د عالمانو یوه ډله. سعودي عربستان: مجمع خادم الحرمین الشریفین الملک فهد لطباعه المصحف الشریف المراقبه النهانیه.
۶ :فقیهي، فضل الرحمن. (۱۳۹۲). **توحید وجودی از دید گاه امام ربانی**. فصلنامۀ علمی پژوهشی جامی، شمارۀ۱. مؤسسۀ تحصیلات عالی جامی.
۷ :ناګار، فضل ولي. (۱۳۸۸). **عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې یې څرکونه**. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.
۸ :ناګار، فضل ولي. (۱۳۹۰). **د بایزید روښان عرفاني-ادبي ښوونځی**. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.